# طالب زوی خپل دولت پلوی پلار شهید کړ

د جوزجان ولایت په فیض اباد ولسوالی کې د حکومتي خواکونو د ۵۰ کسیزې ولې قوماندان، وږمه شپه له خپل طالب زوی سره د اوږدې جګړې په پای کې شهید شو. د فیض اباد ولسوال انجنیر افشاه ازادی راډیو ته وویل ۶۰ کلن باز محمد د بوخ پخوانی ډګروال او د کوکلداش سیمې د امنیتي قرارګاه قوماندان او فریدون زوی یې وسله وال طالب و او د شبرغان- مزار شریف د لارې په اوږدو کې یې فعالیت کاوه. د دغه پلار او زوی دښمنې د افغانستان د جګړې ربښتینې روایت دی. په دې اړه په یوه راپور کې راغلي، چې باز محمد وسله وال مخالفین سولې ته هڅول. شاغلي باز محمد آزادي راډیو ته ویلي وو «د هرې جګړې پای سوله ده. موږ د ناپوهی له کبله دا مصیبت پر خان راوستی. که یوه شو، په هېواد کې له سولې پرته بله لاره نشته او په نورو هېوادونو کې هم له جګړو وروسته بالاخره سوله شوې.» د فیض اباد ولسوال وویل ډګروال باز محمد او ۱۱ سرتېري یې چې د وږمې شپې په نښته کې شهیدان شول، پرون خاورو ته وسپارل شول.

Ketabton.com

# ...نستانه د ځواکونو د اېستلو مهالوېش نشته

چې د امریکا د کانګرس یو شمېر غړیو له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د اېستلو د احتمال په وړاندې خبرداری ... دوال پرېکړه به په امریکا کې د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې د حملو په شان د بلې پېښې سبب شي

ویل چې د ۱۰ دوال پرېکړه به په امریکا کې د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د یوولسمې د حملو په شان د بلې پېښې سبب شي. ولسمشر ټرمپ په فرانسه کې

اېستلو لپاره کوم مهالوېش نشته او نه په دې برخه کې بېړه لرو. ټرمپ تېره اوونۍ په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو روا احمقانه بللې و خو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**